د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د توضيح پاڼو د خپرونې لړۍ

امندا سیم د کال ۱۳۸۷ تلې میاشت

# په افغانستان کې د ماشومانو د کار په وړاندې مخالفت کول

## محتوی

۱. ماشومان ولې کار کوي..........۳
۲. د ګوابن سره مخ ماشومان او د هغوی پر وړاندې د غبرګون ځرنګوالی..........۹
۳. پایلې او سپارښتنې..........۱۲

## دلیکوال په هکله

امندا سیم

امندا سیم د ۱۳۸۲ کال څخه راهیسې په افغانستان کې د ماشومانو د ساتنې په برخه کې په کار بوخته ده. او ددې رسالې د لیکلو پر مهال هغه د افغانستان د څیړنې او ارزونې په اداره کې دماشومانو د کار په برخه کې د څېړنې د آمرې په توګه دنده تر سره کوله او له هغې وړاندې په افغانستان کې د ژغورنې په نړیواله کمیټه (IRC) کې د ماشومانو او ځوانانو د ساتنې او پراختیایي پروګرامونو د لارښوونې دنده درلودله. نوموړې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د فلتچر د حقوقو او ډیپلوماسۍ له پوهنتون څخه خپله ماسټرې تر لاسه کړې ده.

## ۱. ځغلنده کتنه

د ماشومانو کار په افغانستان کې د اند یښمن کوونکو موضوعګانو څخه دی. د وروستنیو اټکلونو پر بنسټ د ۷ څخه تر ۱۴ کلن عمر لرونکو هرو څلورو افغان ماشومانو څخه یو یې په یو نه یو ډول په کار بوخت دی[1]. دغه لنډ راپور پدې لټه کی دی چې ولې په افغانستان کې ماشومان کار کوي، او زیاتره پرهغو عواملو تمرکز کوي چې د کورنۍ په کچه د پرېکړو ځرنګوالۍ اغیزمن کوي. د دغه راپور د موندنو په بنسټ چې د ماشومانو کار ته د اړو او نااړو کورنیو د ژورو کیفي څېړنو پایله ده. د دغه څېړنې موخه د بېوزلۍ له کړۍ څخه په پراخ لید سره د ماشومانو د کار په اړه د کورنیو پرېکړو د کلتوري او ټولنیزو عواملو لمنه ومومي او په پالیسیو کې د هغه عملي اړخونو ته زیاته پاملرنه وکړي .

د نوموړې څېړنې موندنې د ۳۳ کلیوالو او ښاري بېوزلو کورنیو سره د مرکو پایله ده. دغه کورنۍ چې د کابل ښار او د پغمان په نیمه ښاري سیموکې ، د هرات په ولایت، لکه د هرات ښار او د ایران پولې ته نږدې د اسلام قلعې بندر په یوه کلي، او د بدخشان ولایت په کلیوالي سیمو کې استوګنې وې[2]. سر بیره پر دې څېړونکو پدې ترڅ کې د اړونده لورو او ادارو سره لکه د کار او ټولنیزو چارو د شهیدانو او معلولینو وزارت، ملي او نړیوالو نادولتي سازمانونو او د ملګرو ملتونو د ادارو سره د پالیسۍ او پروګرام د جوړولو د سپارښتونو په اړوند سلاوې کړې دي.

کار ته د ماشومانو د لېږلو پرېکړه له ډېرو لاملونو څخه اغېزمنه ده بېوزلي د ماشومانو د کار کولو یو مهم لامل دی چې د مرکه شویو کورنیو په پرېکړه کولو کې ډیر ځرګند رول لوبوي. برسېره پردې د کورنۍ د جوړښت او له جنسیت سره اړوندو نورمونو د کار سرچینو ته لاسرسی اغیزمنه کوي چې کار ته د ماشومانو د لېږلو لامل کیدای شي.

---

[1] د افغانستان اسلامي جمهوریت او یونیسف" په افغانستان کی د ماشومانو لپاره د ټولنیزو شاخصونو ډیرښه اټکل ۱۳۶۹-۱۳۸۴"

[2] د ځیړنې د هرې برخې څخه د لاس ته راغلو موندنو او د کړندود د مفصلې ارزونې لپاره د کابل، بدخشان او هرات د قصیو څیړنو ته به www.areu.org.af مراجعه وکړی.

## لمړی چوکاټ: د ماشومانو کار څه شی دی؟

پدې اړوند پوښتنه چې د ماشومانو کار څه ډول تعریف کړو د یوه روان بحث موضوع ده او پدې اړه دوه لارې شته یو یې هغه لاره ده چې د کار د نړیوال سازمان د ۱۳۵۲ کال د کنوانسیون لخوا د کار د تر ټولو کم عمر په اړه لارښوونه شوې ده، او دوهم د ماشومانو د حقوقو په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۳۶۹ کال د کنوانسیون لخوا لارښوونه شوې ده. لکه څرنګه چې د کار د نړیوال سازمان (ILO) د تر ټولو کم عمر د کنوانسیون څخه څرګندېږي دادی چې د ماشومانو دکار تعریف د عمر پر بسټ شوی، ددغه کنوانسیون له مخې د ګواښمنو کارونو لپاره تر ټولو کم عمر ۱۸ کاله او د سپکو کارونو لپاره ۱۵ کاله عمر په پام کې نیول شوی دی، مګر د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقوقو په کنوانسیون په ۳۲ ماده کې داسې راغلي دي"ماشومان له هر ډول ګواښمن کار او فعالیت څخه او له داسې چارو چې د ماشوم په زده کړه بده اغېزه وکړي یا د ماشوم جسمي، دماغي ، معنوي، اخلاقي او ټولنیزې پرمختیا ته زیان رسوي، باید خوندي شي." خو په افغانستان کې د کار قانون د خطرناکو کارونو لپاره د ۱۸ کلونو او د سپکو کارونو لپاره د ۱۵ کلونو عمر منلی دی. هغه څه چې پدې څېړنه کې په پام کې نیول شوي د ماشومانو د کارپه اصطلاح کې د ماشومانو ټول کارونه که معاش ولري او که ونه لري چې د ۱۴ کلونو څخه د کم عمر ماشومانو لخوا تر سره کېږي، او همدارنګه هغه ګواښمن کارونه چې د ۱۴ او ۱۸ کلونو د عمر ماشومانو لخوا ترسره کېږي راځي. په اصطلا ح کې د ماشومانو د کار تر ټولوبد ډولونه د کار د نړیوال سازمان د ۱۳۶۹ کال په کنوانسیون کې داسې تعریف شوی دی، چې وسله والې شخړې، بدلمنۍ (فحشا ) ، د نشه یي توکو قاچاق، د عمر د په پام کې نیولو پرته دا ټول د ماشومانو د کار څرګندې بیلګې دي.

خو دا پدې معنی نده چې یواځې ټولې بېوزلې کورنۍ او هغه کسان چې د ماشومانو کار ته اړ دي، خپل ماشومان کار کولو ته اړ باسي. د ماشومانو د کار د پرېکړې له لاملونو څخه یو بنسټیز لامل دادی چې دوی د ماشومانو د کار ګټې په ښوونځي کې له داخلیدو څخه غوره ګڼي او داددې لامل کېږي چې دوی د خپلو ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې د پانګې اچول په راتلونکي کې د احتمالي مالي ګټو په اړوند د خپلې پوهې او برداشت په بنسټ تنظیموي. هغه بېوزلې کورنۍ چې خپل ماشومان د کار په ځای ښوونځي ته لیږي ددې وړتیا لري چې لنډمهاله مالي ګټې د اوږدمهاله ګټو د لاسته راوړلو لپاره چې معمولاً دښه معاش او د خوندي کار موندلو په بڼه وي قرباني کړي. اوس دا چې کورنۍ د دغو دوه ډوله ګټو تر منځ څرنګه ارزونه کوي چې د زیاتو لاملونو سره تړاو لري لکه باکیفیته ښوونې او روزنې ته لاسرسي او همدارنګه ددوی په کاری شبکه کې د یوې بریالۍ بیلګې څرګندول دي. د کار څخه د راپورته کېدونکو ګواښونو څخه د پوهاوي د کچې توپیر هم د هغو لاملونو څخه یو دی چې کار ته د ماشومانو د لېږلو او نه لیږلو په اړه د کورنیو تر منځ د توپیر سبب کېږي. د بېلګې په توګه هغه کورنۍ چې د خپلو ماشومانو د کار له ګواښ څخه زیات خبر دي او د کار پورې اړوندو فزیکي او اخلاقي ګواښونو په وړاندې حساس دي. د دغه څېړنې موندنې همدارنګه د ماشومانو کار او یا ښونځي ته د لیږلو په هکله کورنیو پریکړوکې د ټولنیز نورمونو اغیزو ته هم ګوته نیسي. د بېلګې په توګه کورنۍ د هغو خلکو چال چلند چې د دوي په ټولنیز چاپېریال کې ژوند کوي د خپلو پرېکړو لپاره د توضیح په توګه یادوي. نولدې کبله د ټولنیزو نورمونو بدلون ته د ښوونې او روزنې په لور او د کار څخه لیرې ښایي په اوږد مهال کې د ماشومانو د کار د پیښو د کچې د راټیټولو تر ټولو پیاوړې لاره و اوسي.

په افغانستان کې د ماشومانو د کار په وړاندې په ګټوره توګه غبرګون پر کورنیو پریکړو د اغیزمنو لاملونو او د ماشومانو پر وړاندې د شته ګواښونو د طبیعت او کچې یوې بنسټیزې شننې ته اړتیا لري ددغې مینځګړیتوب موخه د هغه لارو ټاکل دي څو وکړای شي چې د کار د ګواښ سره مخامخ ماشومان ، هغه ماشومان چې له پخوا نه په کار او یا هغه ماشومان چې د کار په ناوړه ډولونو کې بوخت دي د کار د ګواښ پر وړاندې د خوندیتوب، د کار د کچې کمول او یا د کار د مینځه وړل دي. په افغانستان کې د ماشومانو د کار موضوع ته زیاته پاملرنه دډیرو مثبتو پالیسیو او پلان شویو پرمختګونو لامل شوی دی. که څه هم تر اوسه د ماشومانو د کار د مخنیوي، کمولو او له منځه وړلو

په اړوند هېڅ ډول پراخه، هر اړخیزه او بشپړه ستراتیژي نشته تر څو د دولتي او پلې کونکو سازمانونو ډول مداخلې یو موټې کړي. څرنګه چې د ماشومانو د کار موضوع د پالیسۍ له پولو وتلې ده نو اړینه ده چې ګټور ځواب باید څو سکتوري او په ټولیزه کچه همغږی شي ، له ماشوم نه نیولې تر کورنۍ ، ټولنې او د پالیسۍ تر چاپیریال پې تر پوښښ لاندې وي. هغه وړاندیزونه چې ددې څېړنې په دویمه برخه کې راغلي دي د افغانستان دولت او پلي کوونکو سازمانونو ته لاندې سپارښتنې کوي:

- ښوونې او روزنې ته لاسرسی او د هغه د څرنګوالی ښه کول؛
- د معیشت د فرصتونو او د ښوزلو کورنیو لپاره ښې پایلې
- د ماشومانو د کار پر وړاندې د ټولنیزو نورمونو او چال چلند بدلون؛ او
- د ماشومانو د کار د کچې د راټیټولو لپاره د پالیسیو او قانون او مقرراتو غښتلي کول.

# ۱. ماشومانولې کار کوي

د ماشومانو د کار په اړوند پرېکړې د کلتوري، ټولنیزو او اقتصادي عواملو د پېچلي عمل او عکس العمل تر اغېزې لاندې دي. لکه څرنګه چې په لاندې ګراف کې ښودل شوي دي. د کار ته د ماشومانو د لېږلو په اړه د کورنیو پرېکړې د ماشوم او د هغه د پالونکې د فردي ځانګړتیاوو او د کورنۍ، د ټولنو تر منځ د ځواک او ټولنیزو قواعدو سره تړلې دي. په افغانستان کې لویې ټولنیزو اقتصادي- زمینو هم په خپل وار د ماشومانو د کار په هکله یې د کورنیو پرېکړېاغېزمنې کړې دي . په راتلونکو برخو کې په بشپړه توګه دغه لاملونه چې د د ماشومانو د کار په اړه د کورنیو پر پرېکړو اغېزه کوي، تر څېړنې لاندې نیسي.




۱. انځور: ښوونځی یا کار؟

## ۱،۱ بېوزلي او د معیشت نه خوندیتوب

بېوزلی او بې برخې والې د دغه څېړنې تر پوښښ لاندې کابو ټولې کورنۍ ځپلې دي. دغه کورنۍ د مزمن معیشت او اقتصادي نه خوندیتوب او د دندو د نشتوالي او یا بې نظمۍ له کبله د ژوندانه د لومړنیو اړتیاوو د پوره کېدو لپاره هلې ځلې، ، ټیټ معاشونه او ډېرو لګښتونو او پور ، سره مخامخ دي. د ټولنیز ساتنې دېو پراخ کاری چوکاټ د نشتوالي له کبله د ماشومانو کار د هغو ستراتیژیو له ډلې ګڼل کېږي چې کورنۍ غواړي له بیلابیلو بڼو د خپلو عایداتو کچه لوړه کړي. که څه هم پدې څېړنه کې ټولو کورنیو د معیشت نه خوندیتوب کار ته د خپلو ماشومانو د لېږلو د لامل په توګه ندی یاد کړی او دا کېدای شي د نورو غیر اقتصادي عواملو اغېزو ته اشاره وکړي.

> "زما په اند له ما څخه بېوزله څوک نشته، نو که چېرې زه کولای شم د مالي ستونزو سره سره خپل ماشومان ښوونځي ته ولېږم، نو ولې نور کسان نشي کولای؟ هر څوک کولای شي هر کار چې وغواړي ویې کړي... او هېڅوک نشي ویلای چې زه ډېر نا هیلی وم نو ماشومان مې ښوونځي ته و نه لیږل".
>
> د کابل په ښار کې د یوې کورنۍ پلار چې خپل ماشومان یې په کار نه وو ګمارلي.

## ۲،۱ د کورنۍ جوړښت او جنسیتي نورمونه

د کورنیو جوړښت یو له هغو لاملونو څخه دی چې کېدای شي د ماشومانو د کار د ځواک څخه د ګټې اخیستنې پرېکړې اغېزمنې کړي . دا څېړنې څرګندوي چې هغه کورنۍ چې خپل مشران او ډوډۍ ګټونکي یې له لاسه ورکړي او د عمر د زیاتوالي او یا کومې ناروغۍ له کبله کار نشي کولای، ډېر احتمال لري چې د خپلو ماشومانو د کار دځواک څخه ګټه واخلي. او له بل لوري د جنسیتي نورمونو اوقواعدو له کبله میندې نشي کولای له کور څخه بهر کار وکړي. له همدې کبله زیات احتمال لري چې د هغه کورنیو چې سر پرستي یې د ښځو پر غاړه ده په ځانګړې توګه د کور ماشوم هلکان د ژوندانه د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د کورنۍ د نارنیه پر ځای . په اقتصادي فعالیت کې ونډه واخلي. د پام وړ استثناهات شته دي، که څه هم چې ګڼ شمېر میندې شته چې د جنسیتي قواعدو څخه یې سر غړونه کړې او خپل ماشومان یې د کار کولو څخه لیرې او په ښوونځي کې ساتلې دي

د کورنیو په عاید کې د ښځو د ونډې اخیستنې وړتیا او د ماشومانو کار ته د اړتیا په راټیټولو کې په لویه اندازه توپیر لري او په شخصي توان، د هغوي د کورنیو د کړو وړو او ټولنیزو قواعدو سره تړلې دي.

> ### ۲ چوکاټ: له ننګونو سره د جنسیتي نورمونو او قواعدو مخ کېدل
>
> د سلیم مور د خپل مېړه له مړینې وروسته له یوه کال راهیسې د ۷ کسیزې کورنۍ یوازینۍ ډوډۍ راوړونکې ده. ددې لپاره چې وکولای شي خپل ماشومان په ښوونځۍ کې شامل کړي، د خپلیوه ګاونډي په کور کې په مزدوری بوخته ده مګر تل د ښځو د ګوښه والي په اړوند د ټولنیزو قواعدو د تر پښو لاندې کولو له کبله په ویره کې ده:
>
> نومورې داسې وایي: "زه نه غواړم چې په راتلونکې دویخلک ) زما ماشومانو ته ووایي چې زه د خلکو په کورونو کې د خدمتګارې په توګه کار کوم، او که خلک زما ماشومانو ته داسې څه ووایي نو زما اولادونه به و شرمېږي چې زه هېڅکله دانه غواړم. د اولادونو پلار لوی او مهم سړی ؤ، هغه یو ملا ؤ، له همدې کبله خلک نه مني چې ښځه یې د هغه د کورنۍ د شرم لامل شي".
>
> د سلیم د مور کیسه ددې څرګندویه ده چې ښوونې او روزنې ته د ماشومانو د لاسرسي په موخه ښځې جنسیتي نورمونه او قواعدیې له ننګونو سره مخ کړې دي. که څه هم چې دا کار د دوی او د دوی د کورنیو د شهرت لپاره جدي او لوی ګواښ رامنځته کوي.

## ۳،۱ د کار او ښوونځۍ تر منځ معامله

د دغه څېړنې ټولې کورنۍ د بېوزلۍ او د کار لپاره د نه بسیا سرچینو دیو راز ننګونو سره مخ دي خو تر اوسه ټولو د دغو ستونزو سره د مقابلې په موخه د ماشومانو د کار څخه ګټه نده

اخيستې. کورنۍ معمولا دا پوښتنه په پام کې لري چې د کار او ښوونځي په چوکاټ کې د ماشومانو د وخت څخه څرنګه په ګټوره توګه ګټه واخلي او ياهم ددواړو د ترکيب څخه. ددغه څېړنې موندنې څرګندوي چې کورنۍ د کار او ښوونځي تر منځ د لګښتونو او ګټو په يوې ژورې ارزونې کې د خپلو اولادونو د زده کړې لپاره د پانګې اچولو دکمښت او زياتوالي د لنډمهاله او اوږدمهاله ګټو پر بنسټ ارزوي.

کورنيو پدې څېړنه کې د ښوونځي د ارزښت په ارزونه کې درې مهم لاملونه په پام کې نيولي دي چې دادي: کيفيت، لګښتونه او په راتلونکو کې د ګمارل کېدو لپاره شونتيا. د ښوونې او روزنې کيفيت چې ماشومان يې په ښوونځيو کې تر لاسه کوي د ګڼ شمېر کورنيو لپاره يوه جدي اندېښنه وه. هې او ماشومان او د دوی ميندې او پلرونه د ښوونځيو د آسانتياوو د خرابوالي؛ په ټولګيو کې د زده کوونکو د شمېر د زياتوالي؛ او دلازمو شرايطو نه درلودونکو، غير فعالو او حتي ناوړه ګټو اخيستونکو ښوونکو څخه سر ټکولو. همدارنګه دوی د بې کيفيته زده کړو د پايلو څخه هم ناهيلي دي. لکه څرنګه چې د هرات ولايت څخه يوې مور شکايت درلود: "زما لور د ښوونځي په څلورم ټولګي کې ده خو اوس هم نشي کولاي چې څه ولولي يا يې وليکي نو څه اړتيا ده چې ښوونځي ته يې ولېږو؟" پدې بېلګه کې خپله نجلۍ هم د ښوونځي د پرېښودو او په کور کې د خپلې مور سره د غالۍ اوبدلو ته لېواله وه. چې البته د نجلۍ دا پرېکړه د دوو لويو لاملونو له کبله ده، يوه يې دا چې په ښوونځي کې د ښوونې او روزنې د کمزورې کيفيت او دويم دا چې د يو کسب د زده کړې (غالۍ اوبدل) او له مور سره د د کورنۍ عايداتو کې د مرستې په موخه د يوې وړتيا د زدکولو په نتيجه کې ديو ډول خوښۍ او وياړ احساس درلودل.[٣]

يوازېنۍ استثنا د څېړنې تر پوښښ لاندې د بدخشان ولايت په يوه کلي کې وه چې ځواب ورکوونکو په عمومي توګه په ښوونځيو کې د ښوونې او روزنې د کيفيت څخه خوښ وو. د کورنيو تر منځ د باکيفيته ښوونې او روزنې درک د ټولنې د مشرانو تر منځ د ښوونې او روزنې په وړاندې د پياوړي ژمنتوب شتون د خورا جدي اغېزو لرونکي وو: پدې کلي کې کابو ټول ماشومان په منظم ډول په خپلو درسي ټولګيو کې ګډون کاوه. دا بېلګه د کار او ښوونځي په اړه د کورنيو پر پرېکړو د ښوونې او روزنې د کيفيت د اغېزې څرګندونه کوي.

د ښوونې او روزنې د کيفيت پر موضوع برسېره د ښوونې او روزنې د لګښتونو موضوع د بېوزله کورنيو لپاره يوه بله اندېښنه ده. پداسې حال کې چې په ظاهري توګه لومړنۍ او ثانوي زده کړې په ټول افغانستان کې د ښوونځي د عمر ماشومانو لپاره وړيا دي، خو په حقيقت کې دغه کورنۍ بايد يو شمېر لګښتونه لکه د ښوونځي لپاره ځانګړي کالي، قلم او کتابچې چمتو کړي او آن تر دې چې د ماشومانو د برياليتوب لپاره د هغوی ښوونکو ته د ډالۍ هم برابرې کړي. دغه لګښتونه که څه هم لږ ګڼل کېږي خو د هغو کورنيو لپاره چې د خپلو لومړنيو اړتياوو د پوره کولو په برخه کې د ستونزو سره مخامخ دي، يوه لويه ستونزه ده. ددې سره سره که بېوزله کورنۍ فکر وکړي چې د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې پانګه اچونه خورا ارزښت لري، دوی داسې لارې چارې لټولاي شي چې د خپلو ماشومانو اړتياوې څه ناڅه پوره کړي. د بېلګې په توګه د وريجو له بوجيو څخه ماشومانو ته بکس او د ګټه اخيستل شويو کاغذونو څخه د ماشومانو لپاره کتابچې جوړې کړي، تر څو وکولاي شي په ښوونځي کې د خپلو ماشومانو د زده کړې دوام تضمين کړي.

کورنۍ د خپلو ماشومانو د کار او ښوونځي تر منځ د پرېکړو د ارزونې په وخت کې هغه ممکنه ګټې چې په راتلونکي کې به د دوی د اولادونو په برخه کېږي هم په پام کې نيسي. که د ښوونې او روزنې په برخه کې پانګه اچونه وکولاي شي په راتلونکي کې د دوی د اولادونو لپاره ښه مالي شرايط رامنځته کړي، نو کورنۍ به ښوونځي ته د خپلو ماشومانو په لېږلو کې زياته لېوالتيا وښيي، ځکه چې دا ډول عمل د دوی د اولادونو د راتلونکي پر تضمين برسېره په خپل وار د ټولې کورنۍ په ګټه به وي. که څه هم د ځينو کورنيو لپاره پر معيشت د تمرکز له امله به د اوږد مهاله ګټو په پام کې نيول محدود ديدل.

په افغانستان کې د بيکارۍ لوړې کچې ته په پام، زيات شمېر ځواب ورکوونکي شک لري چې رسمي ښوونه او روزنه کولاي

٣ په هرات کې د شفيقې کيسې ته پاملرنه وکړئ. هغه لاملونه د ماشومانو د کار څخه د ګټې اخيستنې پريکړې اغيزمنې کوي: په هرات کې د يوې بيوزلې کورنۍ د قضيې څيړنه. AREU by A. Sim and ML. øilund-Carlsen ,٢٠٠٨.

شي د دوی د اولادونو لپاره د ښو فرصتونو د رامنځته کېدو لامل شي. دغه شک په ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې د ټیټ کیفیت او ثانوي او لوړو زده کړو ته د لاسرسی محدودیت سره په ګډه د ماشومانو کار ته د مخ کولو لامل شوی دی

## ۴،۱ د ښوونځي او کار یو ځای کول

ښه ده چې ډول ډول کسبونه زده کړو، ښه ده زده کړه چې بوټونه څرنګه ورغوو، لدې کبله چې وروسته کولای شو د سړک په غاړه کښېنو او لدې کبله ۲۰ یا ۳۰ افغانۍ وګټو او وکولای شو ډوډۍ وخورو. ځینې وختونه د یوه کسب زده کړه د پوهې د زده کړې په پرتله زیاته ښه وي، ځکه که پوهه ولرو هم په هغه چټکۍ چې د کسب د زده کړې په وسیله کار مومو، نشو کولای کار ومومو. که مو کسب زده وي کولای شو هر وخت چې وغواړو کار پیدا کړو. د بېلګې په توګه یو سړی کولای شي د سړک په غاړه کښېني او بوټونه جوړ کړي، که څه هم چې نالوستی دی خو کولای شي د خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي.
د هرات ولایت څخه یو نیکه چې د ماشومانو د کار مدافع دی.

بېوزله کورنیو د ماشومانو د کار او ښوونځي ترمنځ د انتخاب سره مقابله کې په لنډمهال او اوږدمهال کې د هر یوه ګټې اولګښتونه ارزولي دي اوددې لپاره چې هر یوه احتمالي ګټې په هغه شرایطو کې چې سر چینې محدودې دي لوړ حد ته ورسوي یو ستراتېژیک انتخاب کوي. ځینو کورنیو هڅه کړې چې د خپل پر وړاندې ګوابښونه د ځینو ماشومانو کار او ځینو ماشومانو ښوونځي ته د لېږلو له لارې راټیټې کړي او یا دا چې ټول ماشومان هم ښوونځي ته ولېږي او هم یې په یوه کار وګماري. د دویمې ستراتېژۍ په کارولو سره ماشومان کولای شي هم لوست وکړي او هم یو کسب زده کړي ترڅو که چېرې د خپلې پوهې له لارې کار ونشي موندای، د خپل کسب له لارې د ژوند اړتیاوې پوره کړي.

هغه ماشومان چې هڅه کوي چې هم ښوونځي ته لاړ شي او هم کار وکړي، ښوونځي ته د حاضرېدو او د لوستونو په زده کړه کې له لویو ستونزو سره مخ کېږي. په کابل او هرات کې ځواب ورکوونکو څرګنده کړې چې ګومارونکي ماشومانو ته ښوونځیې ته د حاضریدو او د کورنیو د دندو د سرته رسولو اجازه نه ورکوي.

او له بل لوري په ښوونځي کې ښوونکي هم هغه زده کوونکي چې د کار د زیاتوالي له امله ښوونځي ته په منظمه توګه نه حاضرېږي او یا هم خپلې کورنۍ دندې په سمه توګه سر ته ن رسوي جزا ورکوي. ځواب ورکوونکي ماشومان هم وایي چې د ښوونځیاو کار د چاپېریال د غوښتنو څخه ستړي شوي دي، او د خپلو هغو ټولګیوالو لخوا چې کار نه کوي له ځورولو څخه شرمیږي. له همدې کبله زیات شمیر هغه زده کوونکي چې کار کوي ندي توانېدلي چې د وخت له نه درلو او د لږ توان له کبله کار اړوندې غوښتنې پوره کړي اوددوي د اړتیاوو پر وړاندې د ښوونځیو د سیستم د بې پروایی له امله ته دوام ورکړي او په پای کې یې ښوونځی پرېږدی او په دایمی توګه کار کولو ت مخه کوي.

زه: د تاسو د کار زیان اړوونکي اړخونه څه دي؟
ځواب ورکوونکی: زه د زده کړې پرېښودو ته اړ شوم، او دا زما لویه ستونزه وه.

زه: د خپلې ښوونځي او زده کړې سره څرنګه وې؟
ځواب ورکوونکی: زه چندان ښه نه وم، ښوونکي به همېشه وهلم
زه: ته ولې ښه زده کوونکی نه وې؟
ځواب ورکوونکی: لدې کبله چې ما هېڅکله خپله کورنۍ دنده سرته نده رسولې او خپل درسونه مې ندي لوستي:

ولې؟
ځواب ورکوونکی: لدې کبله چې ما به د شپې تر ناوخته کار کاوه، نو څرنګه مې کولای شواې چې خپل درسونه ولولم؟ د هرات په ښار کې د ۱۳ کلن هلک سره مرکه چې د مستري د شاګرد په توګه یې کار کاوه

## ۵،۱ زده کړه د کار لپاره د یوې هڅونکې په توګه

د ښوونې او روزنې څخه په اوږدمهال یا لنډمهال کې د ګټې د نشتوالي له کبله ښایي بېوزله کورنۍ پرېکړه وکړي چې د دوی د ماشومانو وخت د معاش په پیداکولو کې ولګول شي. هغه لګښتونه چې په ښوونځیو کې د وخت تېرولو له کبله کېږي غالباً د هغو ګټو څخه زیات دي چې د ښوونې او روزنې د ټیټ کیفیت

څخه تر لاسه کېږي څو د کورنې مهمې اړتياوې پوره کړي. د ماشومانو کار يوائې دکورنيو د لنډمهاله ګټو د تامين او د عايداتو د زياتوالې د يوه وسيله نه بلکه د يوه کسب او وړتيا د زده کړې يوه لاره ده چې د ماشوم د نامعلومې راتلونکې لپاره ګټور وي. ځواب ورکوونکو د ماشومانو د کار لپاره د يوې غير اقتصادي هڅونکې په توګه د زده کړې يادونه کړېده او په عمومي توګه هغه کارونه غوره ګڼي کوم چې د يو مهارت يا وړتيا د زده کړې لامل کيږي لکه د شاګرد په توګه کار کول نسبت هغو کارونو ته چې د ماشومانو لخوا سرته رسول کيږي او دوړتيا د لاس ته راوړلو لپاره لږ فرصتونه برابروي لکه د سړک په غاړه د ځينو توکو پلورل. د ماشومانو کار د ځينو کسانو لخوا د بلوغ او مېړه توب دورې ته د ماشومتوب له دورې څخه د اوښتون په توګه يادېږي او داپداسې حال کې دي چې ماشومان د ژوند مهم مهارتونه زده کوي تر څو وکولاي شي په راتلونکي کې د يوه ښه خاوند ،ښځې، ميندو او پلرونو په توګه واوسي. ميندې او پلرونه او آن خپله کارکوونکي ماشومان زده کړې ته د ماشومانو د کار د مسئوليت پېژندنې اود يوې مثبتې لاسته راوړنې په سترګه ګوري.

> زه پوهېږم چې ځرنګه ځمکه يوې کړم، تخمونه وکرم او حاصلونه يې راغونډ کړم... او کله چې مې پلار په کور کې نه وي زه د کورنۍ د سرپرستۍ دنده په غاړه لرم او که په کلي کې کومه پېښه وشي زه هغې غونډې ته بلل کېږم چې پکې مشران پرېکړې کوي.
>
> د بدخشان په ولايت کې يو ۱۴ کلن ماشوم چې د سوند لرګي راټولوي او خرڅوي يې

## ۲،۱ د ماشومانو خوندي او له ستونزو څخه ليرې ساتل

څېړنه د هغه اړيکې ښرګندونه کوي چې د ماشومانو دکار او د ماشومانو د اخلاقو او خونديتوب لپاره د ميندو او پلرونو د ويرې تر مينځ ده.. زيات شمېر ځواب ورکوونکو د خپلو ماشومانو د فراغت د وخت په اړه د ژورشک څرګندونه کوي او وايي يو له هغو دليلونو څخه چې دوی اړ باسي چې خپل ماشومان کار ته وليږي دادی چې دوی غواړي چې خپل ماشومان پر سړکونو له ګرځيدو راګرځيدو او له ستونزو څخه خوندي وساتي. ميندې او پلرونه په ځانګړې توګه لدې څخه ويره لري چې ګوندې د دوی اولادونه د منفي او انحرافي کړو وړو لکه سګرټ څکول او د نشه يي توکو تر اغېزې لاندې راشي يا دا چې وتښتول شي يا د تاوتريخوالي د داسې لويو جرمونو قرباني شي چې په ټول هېواد کې د امنيت د بدو شرايطو له کبله لاس پرې پورې کېږي. دا ډول وېره په زياته کچه د کابل او هرات په ښاري سيمو کې د ميندو او پلورونو له لوري څرګنده شوې ،او دا په داسې حال کې ده چې ماشومان د بدخشان ولايت په کليوالو سيمو کې ډېر آزاد دي چې د خپلو همزولو سره د لوبو څخه خوند واخلي. البته دا توپير د کليوالي سيمو د طبيعی صميميت له کبله دی چيرې چې هلته کورنۍ نسبت ښارې سيمو ته يو ټولنيز نږديوالی او پر يو بل د باور څرګندونه کوي پداسې حال کې چې ځينې کورنۍ چې خپل ماشومان کار ته ليږي وايي دوی د خپلو ماشومانو د خونديتوب لپاره دار کار کوي، او هغه کورنۍ چې نه غواړي خپل ماشومان کار ته وليږي د کار څخه په را مينځ ته کيدونکو فزيکي او اخلاقي ګواښونو ټينګار کوي. د دغه شمېر ميندو او پلرونو لپاره ښوونځی د کاشومانو لپاره د زدکړې او لوبيو خوندي ځای ګڼل کېږي. دا لاندې نقل و قول د ګواښ په اړه په کابل کې د دوو کورنيو بيلابيل درک څرګندوي:

> وحيد چې کله ماشوم ؤ زيات شوخ او سرکښ ؤ او تل بې د کاغذباد لوبه کوله، په ديوالونو پورته کېدو او تل به د بامونو پر سرؤ، نو مونږ پرېکړه وکړه چې يو ځای ته يې د کار لپاره ولېږو تر څو خپل ځان ته تاوان ونه رسوي.
>
> د کابل په ښار کې د يوې کورنۍ مور چې د ماشومانو په کار کې ښکيل ده
>
> "زه فکر کوم هغه کسان چې خپل ماشومان د کار لپاره له کور څخه بهر لېږي، ليوني دي، ځکه د دوی ماشومان له کور څخه بهر بد کارونه زده کوي او له بدو ملګرو سره يو ځای کېږي چې بدې لارې ته يې راکاږي چې اغيزې يې ډېرې بدې وي".
>
> د کابل په ښار کې د يو ې کورنۍ پلار چې د ماشومانو د کار مخالف دی

## ۷،۱ نجونې

په افغانستان کې د ماشومانو د وخت د ځانګړې کولو په اړه پرېکړې په پراخه کچه د ټولنیز جنسیت تر اغېزې لاندې وي. د زیات شمېر کورنیو لپاره هغه زیانونه چې په عامه مرکزونو کې د نجونو د حضور او کار څخه د کورنۍ شهرت او عزت ته رسېږي د هغو مالي او اقتصادي ګټو څخه ډېر زیات دی چې د دوی د لورګانو د کار څخه دوی ته په لاس ورځي. په همدې ډول کوم وخت چې نجونې د بلوغ سن ته رسېږي په جنسیت باندې د حاکمو ټولنیزو نورمونو او قواعدو له کبله له زده کړې بې برخې کېږي. په څېړنه کې ځینې ځواب ویونکې څرګندوي چې کورنۍ د نجونو د زده کړې څخه ډېره کمه ګټه اخلي ځکه دوي واده کوي او د پلار له کوره ځي.

"نجونې باید یوه ورځ د خپلو مېړونو کور ته ولاړې شي، نو که زه د دوی د زده کړې لپاره پیسې ولګوم نو ماته بې څه ګټه رسېږي؟ نو لدې کبله ښه به دا وي چې دوي په کور کې وساتل شي تر څو د کور کارونه وکړي"

.

د هرات په ښار کې دیوې کورنۍ پلار چې د ماشومانو په کار کې ښکیل دی

که څه هم چې د کور څخه بهر د هلکانو په پرتله د نجونو د کار کولو لپاره کم احتمال شته، مګر بیا هم دوی د ښوونې او روزنې څخه د بې برخې کېدو له ستړګواښ سره مخ دي او باید د خپل پلار یا مېړه په کور کې د ډېر وخت لپاره کورني کارونه وکړي. د څېړنې تر پوښښ لاندې په ټولو سیمو کې نجونې دواړه کارونه معاش لرونکي( لکه غالۍ اوبدل او د پستو په پوستولو ) او له معاش پرته کارونه سرته رسوي. د کابل او بدخشان په ځینو برخو کې نجونې لیدل کېږي چې په عام محضر کې کار کوي لکه له کثافاتو څخه ځینې توکې راغونډوي ټ او څاروي پالي. که څه هم کله چې دوي د بلوغ سن ته رسېږي، په عام محضر کې د دوي په حضور زیاتې نیوکې کېږي.

## ۸،۱ د ټولنیزو نورمونو او قواعدو اغېزې

لکه څرنګه چې کورنۍ نشي کولاي په ګوښه توګه ژوند وکړي، لدې کبله د ماشومانو د کار په اړوند پرېکړې په پراخه کچه د ټولنې د نورو غړو د کړو وړو تر اغېزې لاندې وي، د ښوونځۍ او کار په اړه د ټولنیزو قواعدو او نورمونو ځواک کېداي شي د بدخشان ولایت په یوه کلي او د ایران پولې ته نږدې د اسلام قلعې په یوه کلي کې په څرګنده توګه وګورو. د بدخشان په ولایت کې په ښوونځیو کې شمولیت کابو د ټولو ماشومانو لپاره یو نورم او قاعده ده، پدې سیمه کې د ټولنې مشران د ماشومانو د ښوونې او روزنې په وړاندې د ژمنتوب احساس کوي، د ماشومانو میندې او پلرونه د ښوونې او روزنې له کیفیت څخه خوښ دي چې په پایله کې زیات شمېر ماشومان خپلو درسي ټولګیو ته حاضرېږي. ددې په خلاف د ایران پولې ته نږدې د اسلام قلعې په ټولنه کې د ماشومانو کار یو نورم او قاعده ده، ماشومان او د دوی میندې او پلرونه د ښوونې او روزنې د کیفیت د کچې له ټیټوالې له کبله په سیمه ایزو درسي ټولګیو کې ګډون بې ګټې بولي. خو ددې پر ځای دوی له پولې په تېرېدو له لویو کاري فرصتونو څخه ګټه اخیستل بې غوره کړي څو وکولاي شي ښې پیسې تر لاسه کړي. برسېره پردې د اسلام قلعې په کلي کې د ټولنیز او سازماني یووالي نشتوالی پدې مانا دی چې د ماشومانو د کار په اړه هېڅ ډول الزام او ټولنیزه قاعده نشته او کار کوونکي ماشومان د ټولنې د مرستو او ملاتړ څخه په کمه کچه برخمن وي. مګر له بل لوري د بدخشان ولایت په کلیو کې کورنۍ یو له بل سره مرسته کوي تر څو زده کوونکې نجونې د ښوونځې د لارې په اوږدو کې د کلي د یوه ډاډمن سړي یا هلک د ملګرتیا څخه ګټه واخلي او پدې توګه دوی د ښونځیو د لیریوالې او د امنیتي ستونزو سر سره دو ی خپلې نجونو ته اجازه ورکوي چې ښونځیو ته لاړې شي. د بدخشان به کلیبو کې پیاوړې ټولنیزې اړیکې پر ماشومانو ناوړه اغیزې درلودلاې شي، دغه څېړنه د شاهد په توګه څرګندوي چې د سیمه ایزې شورا د پریکړې پر بنسټ دوه ماشومان د کورنۍ د پورونو د خلاصولو لپاره کار ته ولیږدول شول[۴]. په دې پیښو کې د ټولنې لومړیتوبونه د ماشومانو له ګټو څخه اوچتې دي.

[۴] نبي او عبدل وګوری: هغه لاملونه چې د ماشومانو د کار څخه د ګټې اخیستنې پریکړې اغیزمنې کوي: د بدخشان په کلیوالي سیمو کې د یوې بیوزلې کورنۍ د قضیې څېړنه. د پی. هنټ او ای. هوزینو وا لیکنه (د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۷ کال)

غه څېړنه همدا رنګه ځرګندوي چې د ماشومانو د کار او ښوونځي په اړوندو پرېکړو کې د همزولو ونډه هم زیاته ده او ماشومان په شدید ډول د خپلو همزولو او ملګرو تر اغېزې لاندې دي، که چېرې د ماشومانو ملګري په کار بوخت وي نو دوی هم د ښوونې او روزنې لپاره لږه مینه لري او د ټولنې د نورو کورنیو په شان کار یا ښوونځی ته د ماشومانو په لېږلو کې د دوي لاره تعقیبوي. او د مثبت رول پېژندل چې د ښوونې او روزنې له لارې يې زیاتې بریاوې ترلاسه کړې وي په ټولنه کې د ځینو کورنیو لپاره د ماشومانو د ښوونې او روزنې ته د لېږلو یو مهم لامل دی. د پاملرنې وړ خبره داده، ځینې کورنۍ چې د خپلو ماشومانو د کار څخه ډده کوي د نورو ټولو لپاره خپل ځان د یوې مثبتې بېلګې په توګه ویني. لکه څرنګه چې یو ځواب ورکوونکی وایي چې په یوه ټولنه کې د یوې بېلګې ځرګندېدل کېدای شي ډېرې اغېزې وکړي او د ښوونې او روزنې له لارې د بریا د ترلاسه کولو په اړه د خلکو د پوهې د بدلون لامل شي. په دې څېړنه کې "هغه څه چې خلک وایي" د ماشومانو د کار په هکله پریکړو کې پر ټولو کورنیو ستره اغیزه درلوده. د بېلګې په توګه د اوازې د خپرېدلو وېرې کېدای شي یوه کورنۍ دې ته اړباسي چې خپلې نجونې له ښوونځي څخه منع کړي. او له بل لوري هغه ښه موقعیت او شهرت چې د یوې لوستې او متخصصې کورنۍ وي، کیدای شي یوه کورنۍ د ښوونې او روزنې په برخه کې پانګې اچونې ته وهڅوي. د شهرت او ټولنیز موقعیت ارزښت د افغانانو په ګڼ شمېر ټولنو کې وړاندیز کوي چې دزده کړې پر لور د ټولنیزو ارزښتونو بدلون او د کار څخه دخلاصې ټولنې جوړول کیدای شي د ماشومانو د کار د کچې په راټیټولو کې د یوې مهمې ستراتیژۍ په توګه رول ولوبوي.

> "که د ترکمنو د ټولنو څخه یو یا دوه کسان یوه بریا ترلاسه کړي، د بېلګې په توګه که ډاکټر یا انجنیر شي، وروسته د ترکمنو نور خلک هم راپاربېږي او ښوونځي ته ځي تر څو دوی هم ورته بریا ترلاسه کړي."
>
> -د هرات په ښار کې د یوې کورنۍ مور چې د ماشومانو په کار کې ښکیل ده

هغه پرېکړې چې د کورنیو له خوا د ماشومانو د ښوونې او روزنې، کار، او یا د ښوونې او کار د یو ځای کولو په اړه کېږي، د بېلابېلو پېچلو لاملونو له اړیکو څخه اغېزمن وي چې پکې اقتصادي اړتیاوې، د کورنیو جوړښت، د ښوونې او روزنې بالقوه لاسته راوړنې او څرنګوالی، او ټولنیز نورمونه او ارزښتونه شامل دي. هغه ستراتېژۍ چې د ماشومانو د کار د کمولو په موخه کارول کېږي باید څو اړخیزه وي چې پکې په لویه کچه اقدامات او همدارنګه خپله د ماشومانو، د دوی د کورنیو او ټولنو سره په پام کې نیول شوې اقدامات پکې شامل وي.

## ۲. د ګواښ سره مخ ماشومان او د هغوی پر وړاندې د غبرګون څرنګوالی

کارګر ماشومان د خپل کار له کبله د جسمي او رواني ګواښونو سره مخ دي . په دغه څېړنه کې ځینې ما شو مان د هغې اندازه کار چې دلویانو لپاره په پا م کې نیول شوي، دوه چنده کار سرته رسوي چې زیاتره جسمي فعا لیتو نه وي او دټپي کیدو لامل کیږي. د کارګرو ماشومانو زیات شمېر څخه دکار ګمارونکو او آن د پولیسو لخوا ناوړه ګټه اخیستل کیږي او هم ځورول کیږي دبېلګې په توګه دسړک دغاړې کارکونکي ما شومان.

په داسې حا ل کې چې دماشوما نو ذد کار ټول ډولونه یواندازه ګواښمن دي خو د ګواښ ما هیت او شد ت د کا رپه ډول پورې تړلي دي. دبېلګې په توګه د ښاري سیمو په سړکونو اوسرحدي سیمو کې کارکونکي ما شوما ن نسبت هغو ماشومانو ته چې په کلیوالو سیمو کې په کرنه بوخت دي د ډېر ګواښ، ځورونې او ناوړه جنسي استفادو سره مخ دي.

سر بیره پر دې دماشو مانو له کار څخه د را پیدا شویو زیانونو کچه ددوی د کار په ډول، د کار پ رځای کې شته ګواښونه، او دکور او کار چاپیریال پورې اړوند دي. د بېلګې په توګه

د یو مستري شاګرد د کار په ځای کې د ګواښمنو ماشینونو او د سامانونو د غورځیدو سره مخامخ دی، که چیرې د کار ګمارونکې له خوا یې سمه څارنه وشي نو د اوږد مهالو جسمي او ټولنیزو رواني ګواښونو څخه به په امان کې وي. په ښونځي کې حضور کېداي شي دما شو مانو په کار پوري دتړلیو ګواښونو د راټیټولو لپاره یو مهم لامل وي. هغه ما شو مان چې دښو ونځي او کار دواړو مختنه وړلاي شي، د لیک لوست او حساب د زده کړې د لاس ته راوړلو فرصت لري ،او همدا رنګه دخپلو ټولګیوالو سره دمعا ملوله لاري پرخپل ځان ویسا و د او ژوندانه وړتیاوې وګټي. ښونځي ته دماشو مانو لاس رسي او د زدهکړې لپاره د هغوی وړتیا یو له مهمو لاملونو څخه دي چې ددوی د اوږد مهالو ګواښونو او زیانونو څرګندونه کوي.[۵] لاندي جدو ل د فور یو روسا تي اوسکا ت لیون له ماډل[۶] څخه اخیستل شوی دی چې ګتور مفهومي چوکا ټ یې برابر کړی دی تر څو وکولاي شو دهغه په وسیله دکار کونکو ماشو مانو د ګواښ کچه او پر هغوي پو ري تړلي ضروري عملونه وارزوو. دهرم په سر کې هغه ماشومان دي چې دکار په تر ټولو ناوړه ډولونو کې بوخت دي. د ماشومانو دکار تر ټولو ناوړه ډولونه چې د کار د نړیوال سازمان (ILO) په کنو اسیون کي تعریف شوي دي لکه جنسي کارونه ، د نشه یي توکو قا چاق او په وسلوالو شخړو کي برخه اخیستنه.[۷] په افغانستان کې د دغه شان د پټ او حرام ماهیت له امله ددې ډول پیښنو او په هغو کي دما شومانو دښکیلیدو په اړه ډیر لږ معلومات شته

۸. هغه فعا لیتونه چې دماشومانو دکار ډیر بد ډول ګڼل کېږي دماشومانو د بنسټیزو بشري حقونو څه سر غړونه شمیرل کیږي او باید په لنډ وخت کي له منځه لاړ شي. نړیوال قانون پدي اړوند داسې حکم کوي هغه ماشو مان چې په دا ډ ول فعالیتونو بوخت دي پیژندل کیږي نو باید په تر ټولو لومړی له دې حالت څخه لیرې کړی شي او د هغوي دژغورلو او ټولنې ته ددوي بیرته را ګرځیدو لپاره اړین ټو لنیز خدمتو نه برابر شي.[۹] اوسمهال په افغانستان کې ددې ډول فعالیتو نو د پراخوالي او یا دما شومانو دبوختیا د څرنګوالي په هکله کره معلو مات په لاس کې نه شته او نه خو په ملي او سیمه ایزه کچه د دغه ډول پیښنود پیژندګلوی او ځواب ویلو د څرنګوالي په اړوند پوهاوی شته. لدې کبله په ناوړه کارونو کې د ماشومانو د ښکیلیدو د له مینځه وړلو لپاره د دولتي او غیر دولتي چارواکو له خوا د پوهاوي د کچې د لوړلو او په دې هکله د معلوماتو د راغونډولو لپاره هڅې پیل شي. ددې پیښنو د اصلي لاملونو د موندلو لپاره ټولنیز څار به یوه ډیره اغیزمنه لاره وي دهغه پیغور له کبله چې ددې ډول پیښنو سره تړلې وي باید دې ماشومانو ته ژوره پاملرنه وشي او د موضوع حساسیت په پام کي ونیول شي څو د دا ډول ماشومانو محرمیت او جسمي او رواني سلامتي خوندي شي. ۲ انځور: د ګواښ سره د مخامخو ماشومانو هغه مهمې ډلې چې د ګواښ په وړاندې د خوندیتوب، کمولو او له مینځه وړلو سره تړلې دي

۲ انځور: د ګواښ سره د مخامخو ماشومانو هغه مهمې ډلې چې د ګواښ په وړاندې د خوندیتوب، کمولو او له مینځه وړلو سره تړلې دي




[۵] ((د ماشومانو د کار سره مقابله: د ماشومانو د کار د کچې د تلپاتې راټیټولو لپاره د پلان جوړولو خوښنې))، (روم: د ماشومانو د کار پوهاوی، 1385 کال)

[۶] د. روساتي او لیون "د ماشومانو د کار په وړاندې مقابله "

[۷] د ماشومانو د کار د ممنوعیت او د ماشومانو د کار د تر ټولو ناوړه ډولونو د له منځه وړلو لپاره د کار د نړیوال سازمان د ۱۹۹۹ کال ۱۸۲ ګڼه کنوانسیون

[۸] د ماشومانو د کار په اړه راتلونکې څېړنې به د ایران پولې ته نږدې د هرات ولایت په اسلام قلعه کې د ActionAid Afghanistan لخوا ترسره شول، یا هغه څېړنې چې د ننګرهار ولایت په تورخم یا د کندهار په ولایت کې تر سره شوې ټول د ماشومانو د خطرناکو کارونو یا د ناوړه جنسي ګټې اخیستنو د ورته پېښنو سره مخ شوي دي.

[۹] د هغه مرکې له مخې چې لیکونکي په ۱۳۸۵ کال کې په افغانستان کې د کار د نړیوال سازمان د دفتر سره کړېده، څرګندیږي چې افغان دولت به په نږدې راتلونکي کې د ګمارلو د تر ټولو کم معاش کنوانسیون او همدارنګه د ماشومانو د کار د تر ټولو ناوړه ډولونو په اړه کنوانسیون لاسلیک کړي.

په دغه څیړنه کي دماشومانو په کار پورې تړلې ټولې قضیې د ګواښ سره مخ ماشومانو په منځنی ډلې پوري اړوندې دي دهغو ماشومانو په ګډون چې په ګواښمنو کارونو بوخت دي، هغه کار ګرماشومان چې له ښوونې او روزنې پاتې شویدي او همدا رنګه هغه کار ګر ماشومان چې دهغوي ښوونه او زده کړه د وخت څخه د مخه تحصیل پرېښودو له ګواښ سره مخ ده.

پداسي حال کې چې آرما ني غوښتنې د ماشومانو د کار د ټولو ډولونو له مینځه وړل ،دي .خو په افغا نستان کي اقتصادي او ټولنیز واقعیتونه دګواښ د کمولو تدریجي لارې اړینې ګڼي.لدې کبله ددې واقعیتونو په منلو سره چې ځینې ماشومان په لنډمهاله یا منځمهاله تو ګه په کار بوخت دي، باید هغه لارې چارې ولټول شي څو د کارګرو ماشومانو په وړاندې د ګواښ د کمولو او د خوندیتوب دزیاتولو لامل شي. دا ډول رغونکې لارې دا دي: د کار د شرایطو ښه والی، او د ماشومانو زده کړې ته د لاس رسی تضمین او دماشومانو څخه د زده کړې موخو ته په رسیدو کې ملاتړ . بیا هم ممکنه ده چې ځینې کارونه دکارګرو ما شومانو لپاره دروان تولنې او جسمي روغتیا له نظره ډیر ګو اښمن وي چې باید هرو مرو له منځه یوړل شي.

پدي هکله ځواب چې آیا د ماشومانو د کار له مینځه یوړل شي او یا د هغه د کچه را ټیټه شي د ماشوم او دهغه د کورنی شرایطو پورې اړونددی. خو په هر حا ل رغونکې اقدامات باید هغه کارونه چې د ماشوم د ودې لپاره زیانمن دي قانوني بڼه ورنکړي. او له بل لورې دماشومانودکار څخه په بیړه منع کول باید په داسي ډول نه وي چې دهغي څخه وروسته ماشوم له ګواښ سره مخ شي پدېمعنی چې ماشوم او دده کورنی له ستونزواو سره لاس او ګریوان کړي. دماشومانوپر وړاندې د ګواښونو د له مینځه وړلو او یا کمولو لپاره ټولو اقداماتو کې باید کورنی هم په ژوره توګه ښکیل وي، او په لومړي سر کې میندې او پلرونه او هغه کسان چې د ماشومانو روزنه کوي په کې برخه ولري تر څو د ماشومانو سلامتیا په دوامداره توګه تضمین کړي.

هغه اغیزمنې لارې چارې چې موخه یې ماشومان او د هغوی کورنی وي چې دماشومانو د کار د ګواښ سره مخامخ دي تر څو په اوږد مهال کې د ماشومانو د کار پیښې په افغانستان کې راټیټې کړي اړینې بریښي. په دغه څیړنه کې هغه کورنی چې د ماشومانو له کار کولو څخه ګټه نه اخلي دداسې یوې ځانګړتیا یادونه کوي چې دهغې پر بنسټ دوی توانیدلي چې خپل ماشومان له کاره وژغوري. سره له دې دغه کورنۍ په پراخه توګه زیانمنونکې پاتې دي او د یوه نه اټکل شوې حالت د رامینځ ته کیدو په صورت کې کیدای شي چې د ماشومانو په کار کې د ښکیل کیدو له ستر ګواښ سره مخامخ شي.

له دې کبله ددغو د ګواښ سره مخ کورنیو دښه مقاومت لپاره یوه مهمه ژغورونکې ستراتیژي دا ده چې ددوی مالي، فزیکي او انساني پانګه لوړه شي. دبیوزله او زیانمنونکو کورنیو د معیشت پیاوړتیا به د هغوی سره مرسته وکړي څود خپل د ستونزو د حل لارې په توګه د خپلو ماشومانو د کار څخه لږه ګټه واخلي.

د ښوونې او روزنې دکیفیت ښه والی او هغه ته لاسرسي یوبل ضروریژغورونکی اقدام شمیرل کیږي. څرنګه چې ددې څیړنې موندنې څرګندوی هغه ماشومان چې د پوهو ښونکو څخه او په یو مشارکتي او شاګرد محوري چاپیریال کې زده کړه کوي نو ډیر زیات احتمال شته چې له دې پر ځای چې کار ته مخه کړي په ښونځي کې پاتې شي. که میندې او پلرونه ددوي په تعلیم کې رښتینې ګټې ووینې نو ډیر زیات احتمال لري چې د خپلو دماشومانو د ښونځي ته تګ ملاتړ وکړي. او په پای کې ټولنه د ماشومانو له کار څخه د ژغورلو په برخه کې مهم رول لوبوي. څرنګه چې د کار او ښوونې او روزنې په هکله کورنی پریکړې په پراخه توګه دټولنیزو خورو نورمونو تر اغیزې لاندې دي، نوټولنیز اقدامات او مداخلې د ماشومانو د کار د کچې په راټیټولو په برخه کې د خلکو د کړو وړو او ارزښتونو په بدلولو کې خورا سترې اغیزې درلودلای شي.

له دې کبله په افغانستان کې د ماشومانو د کار پر وړاندې د ځواب ویلو لپاره باید څو ډوله اقدامات سره یو ځای شي څود ماشومانو د کار څخه د ژغورلو ، په کرا کې د ښکیلیدو د کچې دراټیټولو او د له منځه وړلو موخې په ننبه کړي. د یوه تصوري چوکاټ څخه په ګټې اخیستنې چې د ګواښ د مختلفو کچو لپاره اړینې چارې پکې په لنډ ډول راځي اړوند چارواکې په دې توانیږي چې اړین اقدامات ترتیب ، همغږې او هم لومړیتوب ورکړل شي. په ملي

اجنډا کې د ماشومانو د کار د موضوع راڅرګندېدنه لکه څرنګه چې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتېژۍ (ANDS) کې او د کارګمارلو په راتلونکې ملي ستراتېژۍ او پالیسۍ کې راغلې دي-د زیږې ورکونکې سیاسي پوهاوي او ژمنې څرګندونه کوي. که څه هم چې د ماشومانو کار ته ځواب ویل د دولتي ارګانونو، بسپنه ورکونکو سازمانونو او نادولتي سازمانونو تر منځ د کم اغېزې همغږۍ له کبله لا تر اوسه نه دی تر سره شوی.

اوس مهال یوې پراخې ستراتېژۍ ته چې پکې د ماشومانو د کار د مخنیوي، د کمولو او د له منځه وړلو موخې پکې شاملې وي، اړتیا شته تر څو دولتي او د نورو پلي کوونکو سازمانونو اقدامات د کورنۍ، ټولنې او هېواد په کچه سره همغږي کړي. د همغږو کوونکو میکانیزمونو بېلګې لکه د ماشومانو د ساتنې د عمل شبکه (CPAN) د پرمختګ په لور مثبت ګامونه ګڼل کېږي[10]. سره له دې دا باید نورې هم پیاوړې او پراخې شي تر څو د نورو اړوندو برخو چارواکې هم په کې شامل شي تر څو د

[10] . CPAN د ماشومانو د ساتنې د عمل شبکه ده چې یونیسف، د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت یې تمویلوونکي دي. اوس مهال دغه شبکه په ۲۸ ولایتونو او کابل کې دفترونه لري او په پام کې ده چې په ۱۳۸۸ کال کې د ولسوالیو په کچه ۳۴ نور دفترونه هم پرانیزي.

# ۳. پایلې او سپارښتنې

ماشومانو مشخصو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په اړوند هېڅ ډول اشاره نده شوې[11].

کارکوونکو ماشومانو ته د ښوونیزو خدمتونو د چمتو کولو په موخه هدفمند اقدامات یوازې د کم شمېر نادولتي سازمانونو لخوا چې په کابل او یو شمېر لویو ښارونو کې تمرکز لري، پر مخ بېول کېږي. او د هغوي د خدمتونو له ډلې د چټکو زده کړو کورسونه او غیررسمي زده کړې دي. د دا ډول مرکزونو جوړول د کارکوونکو ماشومانو د ښوونې او روزنې د دوام لپاره غوره لار ګڼل کېږي.

سره له دې چې دغه مرکزونه کولای شي کم شمېر ماشومان تر پوښښ لاندې راولي او په ژوره توګه د بسپنه ورکونکو ټولنو په مالي مرستو پورې تړلې دي چې له مخکې نه د وړاندوینې وړ نه دی. او دوام یې هم د اندیښنې خبره ده.. له بده مرغه ټول ښوونیز مرکزونه د ښوونې او روزنې مروج سیستم ته د کارګرو ماشومانو د شاملولو هېڅ موخه نلري تر دې چې په ځینو ځایونو کې آن منفي اغېزې هم هم درلودلې دي[12]. البته چې ټول کارګر ماشومان ښایي پ دې ونه توانیږي او یا هم ونه غواړي چې د ښوونې اوروزنې رسمي سیستم ته ور دننه شي. د پلي کوونکو سازمانونو او افغان دولت (د پوهنې وزارت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د شهیدانو او معلولینو وزارت) تر منځ او خبرې اترې اړینې دي، تر څو د خپلو چارو لپاره یوه همغږې شوې او انعطاف منونکې ستراتېژۍ په پام کې ونیسي چې وکولای شي د کار د ګواښ سره مخ ماشومانو او هغو ماشومانو چې مخکې کار ته داخل شوي دي، ګټې په مناسبه توګه خوندي کړي.

## د افغانستان دولت ته سپارښتنې:

- مناسبې ښوونې او روزنې ته لاسرسي او د هغې د کیفیت ښه والی لکه څرنګه چې د ملي معارف په ستراتېژیک پلان کې په پام کې نیول شوي دي. په ښوونیزو موضوعاتو او کړنودونو کې د ښوونکو د پوهې د کچې د لوړوالي په موخه پانګه اچونه او د ښوونکو په روزنیزو پروګرامونو کې د شاګرد محورۍ او ګډون (مشارکت) په ښوونیز چاپېریال ځانګړې ټینګار. د نجونو او د قومي او ژبنیو لږکیو د ماشومانو په وړاندې د ګڼ شمېر خنډونو په پام کې نیولو سره دوي ته ځانګړې پاملرنه او دهغوی د لاس رسۍ زیاتول.

[11] د افغانستان د ملي پرمختیا لپاره د استراتیژي پلان اوس مهال د کره کتنې په حال کې دی. ترڅو د اصلي شامل جوړونه راونیسي. چې د سمون په وخت کې پر ښوونیز نظام ټینګار کوي ترڅو د ماشومانو ډول ډول اړتیاوې پوره کړي. په ځانګړي ډول د کارکوونکو ماشومانو په ګډون هغه ماشومان چې د شمول له کړۍ څخه بهر او یا د صحنې څخه شړل شوي دي.

[12] صادق د هرات په ولایت کې د مستري شاګرد دی. د بېلګې په توګه له دولتي ښوونځۍ ووت تر څو د چټکو زده کړو په یوه کورس کې ګډون وکړي، ځکه چې ده ته جامې او ښوونیزې اړتیاوې په وړتیا توګه چمتو وې. وروسته له دوو میاشتو چې کورس پای ته رسېږي، صادق بل کال ته انتظار باسي چې په ښوونځۍ کې شامل شي.

ماشومانو دکار د مخنیوي لپاره څو سکتوري اړین غبرګون رامینځ ته شي.

راتلونکې برخه کې د ماشومانو د کار د مخنیوي، کمولو او له منځه وړلو په اړه افغان دولت او پلي کوونکو سازمانونو ته ځانګړي وړاندیزونه شامل دي. دغه وړاندیزونه لکه چې ښايي څو سکتوري دي او ماشومان، کورنۍ، ټولنې، او د پالیسۍ جوړونې چاپېریال خپله موخه ګرځوي. لدې کبله په افغانستان کې د ماشومانو کار ته یو ګټور ځواب باید هرومرو همغږی شوی ځواب وي.

## ۱،۳ د ښوونې روزنې د کیفیت ښه کول او هغه ته د لاسرسۍ د کچې لوړول

د دغه څېړنې موندنې په څرګند ډول ښوونې او روزنې ته لاسرسۍ او د ماشومانو د کار په اړوند د کورنیو په پرېکړو کې د هغه د کیفیت اغېزې ښیي. د ښوونې او روزنې د کیفیت ښه والی د ماشومانو د کار د مخنیوي لپاره ډېر اړین دی ځرنګه چې که کورنۍ د خپلو ماشومانو د ښوونې څخه د مثبتو لاسته راوړنو تمه ولري نو ډېر احتمال لري د کار څخه یې منع کړي او د ښوونې او روزنې بهیر ته یې ورګډ کړي. دهغو کاشومانو لپاره چې همدا اوس په کار بوخت دي، ښوونې او روزنې ته ددوی د لاس رسۍ د کچې زیاتیدل یوه د علاج لاره ده چې کولای شي ماشومان د اعظمي حد کار څخه وساتي او د کار ګواښمنې اغیزې کمې او د زده کړې دوام تضمین کړي. دغه څېړنه همدارنګه وړاندیز کوي چې ښوونې او روزنې ته د قومي لړکیو هلکانو او نجونو لاسرسي د ځانګړو ننګونو سره مخ دی او ځانګړي ملاتړ ته اړتیا لري ترڅو په ښوونځي کې پاتې شي او د کار څخه خوندي وي.

مناسبې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي او د کیفیت موضوع ګانې د افغانستان د ښوونې او روزنې په ملي ستراتېژیک پلان (NESP) کې تر څېړنو لاندې دي. پدې پلان کې په مشخصه توګه نجونو، د کوچیانو په ماشومانو، د ښوونیز ځواک نه لرونکو ماشومانو، د ښوونځۍ له عمر څخه تېرو ماشومانو او هغو ماشومانو چې د ښوونځي د شاملېدو لومړی کال یې له لاسه ورکړی وي، ټینګار شوی دی، که څه هم چې د کارکوونکو

- د داسې ستراتېژۍ په جوړولو کې پاملرنه وشي چې ښوونې او روزنې ته دکارګرو ماشومانو د لاسرسي کچه لوړه او تضمین کړي چې کارګرماشومان د معارف د ملي ستراتیژۍ د موخو لپاره یو ټاکلی ګروپ دی. په کابل کې د په ښوونه کې د آزماېښتي ګډولو دښوونځیو څخه ګټه اخیستنه تر څو د کارګرو ماشومانو په زدهکړه کې د شاملیدو لپاره یو ستراتیژي جوړه شي[۱۳]. د بېلګې په توګه د کارګرو ماشومانو لپاره چې په رسمي وخت کې نشي حاضرېدای، د انعطاف منونکې ښوونیز مهالوېش جوړول، تر څو د کارګرو ماشومانو سره د هغه ستونزو پروړاندې چې ددوی د کار او ښوونې او روزنې په لاره پرتې دي او دکار د کول د مجبوریتونو له امله وروسته پاتې دي مرسته او ملاتړ وکړي.[۱۴]
- په یوه کال کې له یوه نوبت څخه دوه نوبتونو ته د نوم لیکنې زیاتولو ته پاملرنه چې کارګروماشومانو ته اجازه ورکړي تر څو رسمي ښوونیز نظام ته داخل شي[۱۵].

د هغو کارګرو ماشومانو لپاره چې له ۱۵ کلونو څخه زیات عمر لري او نشي کولای یا نه غواړي چې په ښوونځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، د مهارتونو او مسلکونو د زده کړې د فرصتونو زیاتول. د ښوونې او روزنې په بیا کتل شوې ملي ستراتیژیک پلان کې د تخنیکي او تخصصي زده کړو او همدا راز د لیک لوست د زده کړې او غیر رسمي زدکړو لپاره دیوې ځانګړې موخې په توګه د ۱۵ کلونو څخه د لوړ عمر لرونکو کارګرو ماشومانو شاملول د ځوانانو د ګډ ملي پروګرام سره په همغږی کې او په ځانګړې توګه د ځوانانو د سلا مشورې ورکولو او معلوماتو مرکزونو سره چې د

۱۳ ترجهواتړډال، د اړتیاوو او حقوقو څېړنه: په افغانستان کې د ښوونې او روزنې شاملونه (یونسکو - چمتو). شامله ښوونه او روزنه هغه کړندود ته ویل کېږي چې ماشومانو او ټولو هغو کسانو ته چې زیان مومي او ګوښې ته شړل شویدي، د ښوونې او رزونې لاره اواره کړي.

۱۴ د لوړو ټولګیو زده کوونکي کولای شي د ښوونکي د مرستیال په توه دنده واخلي، دې حقیقت ته په پام چې په ټولګیو کې د زده کوونکو د شمېر زیاتوالی د ښوونکو لپاره ستړی کوونکی دي او نشي کولای ټولو اړتیاوو ته ځواب ووایي. د ځوانانو د ملي مشارکت پروګرام چې د دوی د خپلې خوښې ګډون مبلغ پروګرام دی، کېدای شي د ټولګیو د ننه د ملاتړ د ښو سرچینو په توګه وګڼل شي.

۱۵ آشیانه، یو افغان نادولتي سازمان دی چې د ماشومانو د حقوقو د کنسرسیوم غړیتوب لري، په دولتي ښوونځیو کې یې د کارګرو ماشومانو د نوم لیکنې او ښوونې او روزنې د لارې اوارولو په برخه کې ډېرې زیاتې هڅې کړې دي.

ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF) د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق (UNFPA) د ملي مهارتونو د پراختیا پروګرام (NSDP) څو د ۱۵ کلنو څخه د پورته ماشومانو لاس رسی د ژوندانه مهارتونوپراختیا او په ځانګړې توګه د لیک لوست زده کړې ته تضمین کړي.

## پلي کوونکو سازمانونو ته سپارښتنې:

- د کارګرو ماشومانو لپاره ټول اقدامات او مداخلات باید مناسب او د هغوي د عمر سره سم وي. د هغو ماشومانو داخلولو ته چې لومړنیو ښوونځیو ته د لارې موندنې ورتیا ولري، باید په دولتي او ټولنیزو ښوونځیو کې لومړیتوب ورکړل شي. هغه ماشومانو ته چې عمر یې زیات وي رسمي ښوونیز نظام ته د ماشومانو د داخلولو په موخه د چټکو زده کړو د ټولګیو او (د سویې ازمویني) فرصت برابر شي. د بېلګې په توګه ددې په ځای چې په ځانګړو تخصصي مرکزونو کې ټولګي جوړ کړل شي، ښه به داوي چې دغه شان ټولګي په دولتي او یا ټولنیزو ښوونځیو کې جوړ کړل شي.

- باید تضمین شي چې د ټولنېز ټول ښوونیز فعالیتونه د کارګرو ماشومانو شاملیدل او ځانګړو اړیتاوو ته لومړیتوب ورکوي. د ځایي شرایطو او د کارګرو ماشومانو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د ښوونیز کال په کلیزه او مهالوېش جوړولو کې د ماشومانو، میندو او پلرونو او د ټولنې د مشرانو شریکول. د ټولنې په سمبالونه او د ښوونکو د ښوونیزو چارو په فعالیتونو کې باید د کارګرو ماشومانو د اړتیاوو د موندلو په ارزښت ټینګار وشي او د هغوي د پوره کولو لپاره باید د انعطاف هڅونه وشي[۱۶].

- دکارګرو ماشومانو او هغه ماشومانولپاره چې د ښونځي د لګښتونو د کمولو لپاره کار ته دلیږلو د ګواښ په درشل کې دي دتعلیمي موادو برابرول لکه کتابچه او قرطاسیه[۱۷].

- د هغه کارګرو ماشومانو ته چې عمر یې له۱۵کلونو څخه زیات وي او نه غواړي او یا دا توان نه لري چې د زده کړې رسمي سیستم ته داخل شي د مهارتونو دپراختیا د فرصتونو او د غیر رسمی زده کړې برابرول باید دپوهنې وزارت ، دکار او ټولنیزو چارو وزارت ،دشهیدانو او معلولینووزارت او د ملی ستراتیژی د پراختیا پروګرام(NSDP) سره همغږې وشي چې دمهارتونو دلوړولو او غیررسمي ښوونې او روزنې لپاره یو نصاب جوړ کړي تر څو ثبات او د کیفیت کنټرول تضمین کړي. د کار سیمه ایز بازار تحلیل په لاره واچول شي څود ځوانو هلکانو او نجونو لپاره د مهارتونو د پراختیا اغیزمن او مناسب فرصتونه په ښه کړي. ددې نه علا وه په هغو ځایونو کې چې مناسب وي دځایي تولیدونکو سره اړیکې ونیول شي تر څو دکار پر مهال دزده کړې او شاګردۍ فرصتونه برابر شي.

## ۳,۲ دبېوزله کورنیو لپاره د ژوندانه دفرصتونو او پایلو ښه کول

بېوزلي چې دکمښت ، کم معاشه کارونه او دژوند دلوړو لګښتونو په پایله کې مینځ ته راغلې وي دماشومانو دکار یوه اصلي انګېزه او سبب بلل کیږي. ددغه څېړنې دا په ګوته کړې چې په ځینو حالاتو کې د کارګرو ماشومانو اقتصادي مرسته دکورنۍ دژوند دژغورلو لپاره ډیره اړینه ده او دا پدې معنی چې دا ماشومان نه شي کولای خپل کار ودروي او خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او یا یې پیل کړي. سر بیره پر دې هغه کورني چې خپل ماشومانو په کار کې ښکیل نه دي کله چې د کورنۍ ډوډۍ ګټونکی رنځور او یا مړشي نو د ماشومانو کار ته د لیږلو ګواښ را مینځ ته کیږي.

لدې کبله دبېوزله کورنیو دمعیشت د کچې پیاوړتیا دوې ګټې لري، یعنې هم جبران کونکی اقدام ګڼل کیږي او هم مخنیوي کوونکې چارې: پدې معنی چې کارګر ماشومان کولای شي بیرته ښوونځي ته لاړ شي او خپل درسونه پیل کړي پداسي حال کې هغه ماشومان چې کار نه کوي دزده کړو دپریښودو دکم ګواښ سره مخ وي .په ځانګړې ډول دفرهنګي مسایلو په پام کې نیو لو سره د هغو ښځو لپاره چې عمر یې لوړ وي، د کار دشرایطو برابرول کولای شي دما شو مانو کار ته د اړتیا د کمښت لامل شي،. څو

[۱۶] د بېلګې په توګه د عامه ښوونځیو په ټولګیو کې چې په بدخشان کې د آغا خان د بنیاد لخوا اداره کیږي، د خلکو د ټولنو مشران د ښوونځیو د چارواکو سره سلامشوره کوي چې کله چې د کرنې کارونه زیات او کاري څواک ته اړتیا ډېره شي، د ښوونځیو درسي ساعتونه کم او کله چې کارونه کم وي، درسي ساعتونه زیات شي.

[۱۷] زیات شمېر عامه ښوونځۍ د زده کوونکو د ښوونې او روزنې کابو ټول توکي چمتو کوي تر څو په ښوونځۍ کې د شاملېدو د مخنوي کوونکو شمېر راټیټ کړي.

دپام وړ خبره دا ده چې دکو رنیو کارونو پیتې باید دکم عمره نجونو په غاړه وا نه چول شي.

دافغا نستان د ملي پرمختیایي سترا تیژي پلان د بیوزلو په ګټه داقتصادي پرمختیایي سترا تیژۍ پر ارزښت ټینګار کړی دی .اوس هم هغه کورنۍ چې د فزیکي، اقتصادي ، ټو لنیزې ، بشري او مالي پانګې د نشتوالي سره مخ دي په دقیق ډول هماغه کورنۍ دي چې دما شو مانو له کار څخه ګټه اخلي او یا دماشو مانو له کار څخه دګټې اخیستو دګواښ سره مخ دي او دغه شان کورنۍ په دایمي ډول د مها رتو نو او دندو دپر مختګ فرصتونه له لاسه ور کوي . واقعیت دادی ډیري اداري چې د کو چنیو پو رونو ، مسلکي زده کړو او د کسب و کار د پراختیا آسانتیاوې برابروي د پانګې د بیرته نه را ګرځیدو له ویرې هغه کورنۍ چې ډیرې زیانمنونکې دي هغوې له خپلو پروګرامونو څخه بې برخې پریږدي. نو ددي لپاره چې د داسي زیانمنونکو کورنیو سره مرسته وشي، بسپنه ورکونکې ټولنې باید د وخت او د پانګې اچونې د سرچینو په برخه کې د زیاتو ګواښونو منونکي وي. برسیره پر دې دماشومانو څخه دملا تړ موخې لکه په افغانستان کې دماشومانو دکار د کچې را ټیټول او دهغې څخه مخنیوی په بشپړ ډول په ټولنیزه او اقتصادي وده کې ډیره فعاله ونډه نه درلودله. دهغو پیا وړو اړیکو په پام کې نیولو سره چې دمعیشت او دماشومانو څخه دملا تړ د پایلو تر منځ شته دي دولت ، بسپنه ورکونکې ټولنو او نا دولتي سازمانونو هغه مهم فرصتونه له لاسه ورکړي څو د کورنۍ د اقتصادي کچې د پیاوړي کونکو اقداماتو له لارې د ماشومانو د سوکالۍ د زیاتیدو لپاره لاره هواره کړي.

## دافغانستان دولت ته سپارښتنې:

- دولت باید ډاډ تر لاسه کړي چې د معیشت او د اقتصادي پراختیا ستراتیژۍ او اقدامات باید هغه زیانمنوکې کورنې چې لږې وړتیاوې او سرچینې په لاس کې لري او د ماشومانو له کار څخه ګټه اخلي او یا د ګټه اخیستلو له ګواښ سره مخ دي.

- دبسپنه ورکونکو څخه ملاتړ څو د زیانمنونکو کورنیو په انساني او مالي سرچینو کې دپانګې اچونې لپاره دمالي سرچینو زیاتوالی تضمین کړي.

## پلې کوونکو سازمانونو ته سپارښتنې:

- دڅو سکتو ري پروژو جوړول او پلې کول چې دمعیشت دبشپړ تیا او دماشومانو دملا تړ عناصر په کې برخه ولري .د د ماشومانو د ملاتړ د موضوع د په نښه کولو (لکه د ماشومانو کار او په ښونځې کې شمولیت) د لومړي ګام په توګه داقتصادي پیاوړې کونکو اقداماتو څخه ګټه اخیستنه، د نورو سازمانونو سره د پروژو د ګډو پلې کولو لپاره همغږي اود بیلابیلو سازمانو د متخصصینو څخه ګټه اخیستنه.

- د وړتیاوو او دکسب او کار د پراختیا د پروګرامونو لپاره د بیوزله او زیانمنونکو کورنیو چې د ماشومانو د کار څخه ګټه اخلي او یا د ګټه اخیستلو له ګواښ سره مخامخ دي. .دکار د سیمه ایز بازار لپاره دسروې په لاره اچول څو د بازار لپاره وړ تیاوې په ګوته کړي، دښځو لپاره دښو عایداتو د لاس ته راوړنې لپاره د لارو هوارولو ته ځانګړې پاملرنه، څو د عایداتو راز راز سرچینې رامنځ ته شي. دهغو کورنیو سره نښلول تر څو د خپل مینځې مرستندویه ډلو د رامینځ ته کولو له لارې وکړای شي هغو کورنیو ته چې نشي کولای وړو پورونو ته د لاس رسۍ وړتیا تر لاسه کړي پورونه او سپما برابره کړي.

- د کورنیو د غړو لپاره د وړتیاوو د بشپړولو او د کسب د پراختیا اقدامات د لیک لوست د زده کړې له کورسونو سره څو د میندو او پلرونو ژمنه او ښکیلېدل د ښوونې او روزنې په برخه کې زیا ته کړي.

- دمعیشتي اقداماتو څخه د ماشومانو او ځوانانو د کار د سرچینو د اختصاص ورکولو په اړوند د پریکړو کولو په اړه د کورنیو دښکیلولو د پیل د ټکي په توګه کار اخیستل. =دکو رنیو سره مرسته وکړي ترڅو خپل ماشو مان په ښوونځیو کې بیرته داخل کړي او دکو رنیو لپاره نو ري مالي لاري ولټول شي په ځانګړي ډول دښځو دخدمت کولودفرصتونو له

لاري چې د ماشومانو د کاري عوايدو د له لاسه ورکولو څخه د را پيدا شوې زيانونه جبيره کړي.

## ۳,۳ د ماشومانو د کار په وړاندې د کړو وړو و نورمونو د بدلون لپاره د ټولنې ښکېلول

د بدخشان ولايت په کليوالو سيمو کې او همدارنګه د هرات ولايت په پوله کې د اسلام قلعې په ټولنه کې تر څېړنې لاندې قضاياوو پرتله بيزې موندنې د ماشومانو د کار په راټيټولو او تنظيمولو کې ديوې پوهې، منسجمې او سمبالې ټولنې د ونډې اهميت څرګندوي. د ماشومانو د کار موضوع د درک او هغه سره د غبرګون لپاره د ټولنې د مشرانو، ښوونکو، په کارګمارونکو (کار فرمايان) او د کورنۍ د غړو څخه جوړه يوې ټولنيزې شبکې باندې پانګه اچول خورا مهم بريښي په ځانګړې توګه چې د ماشومانو د کار زياتره برخه په کورونو او يا په غير رسمي اقتصاد کې پټه پاتې ده.

د ټولنې غړې د دوی د ځايي نورمونو، سرچينو او اړتياوو د ذاتي پوهې په کارول د ماشومانو د کار د خطرناکو ډولونو د پېژندلو لپاره په ځانګړې توګه د دوی د کار تر ټولو بد ډول چې په ټولنه کې يې د نورو لپاره په ډاګه کول منع او شرم دی ډېر اهميت لري. همدا رنګه د ټولنې غړي په ښوونځيو کې د ماشومانو د حاضرېدلو او د هغو کورنيو چې ماشومان يې د کار له کبله د ښونځيو څخه ليرې او يا ګوښې پاتې دي د څارنې په برخه کې مهم رول لوبولی شي.۱۸

د دولت له لورې د اغيز من ملاتړ د نشتوالي په صورت کې ټولنې کولای شي د زيامنونکو کورنيو لپاره د ټولنيز خونديتوب شبکې وړاندې کړي. او په دې حال کې ببوزله کورنۍ د ټولنيزو ځواکمنو شبکو په لرلو سره دنه اټکل شويو پيښو او نورو فشارونو سره پرته لدې چې د ماشومانو د کار ته اړ شي، په اغيزمن ډول مقاومت وکړي. د دې په خلاف په هغو ځايو نو کې چې د خلکو ټولنې د لږ يووالی لري او د ماشو مانو د کار قاعده او نورم ښوونځی ته په تګ غوره ګڼي (په هماغه ډول چې د اسلام قلعې د پو لي په کليو کې وليدل شول) په ډېر زيات احتمال شته چې کورنۍ د ماشومانو په کار کې ښکيل شي.

د ټو لنيزو قاعدو او نورمونو ځواک وړانديز کوي چې د ټولنې دارزښتونو بدلون له کار څخه د ښوونځي پر لورکښېداي شي د ماشومانو په کار کي د پام وړ کمښت راولي او په ښوونځيو کې د ماشومانو د حضور کچه لوړه کړي. د بيوزله کو رنيو له مينځه هغه کورنۍ چې د اسې لارې چارې يې موندلي ځو خپل ماشومان له کاره څخه ليرې وساتي ديوې مثبتې بيلګې ټاکل کولای شي د غه ډول بدلونه ته د رسيدو لپاره يو مهم رول ولوبوي.

### د افغانستان دولت ته سپارښتنې:

- د اسې ميکانيزمونه رامنځ ته کړي چې ټولنې دولايتونو او ولسواليو په کچه ډلو سره چې د ماشو مانو کار په وړاندې د غبرګون او د ماشومانو د ساتنې د نورو اړوندو موضوعګانو په باب مسوووليت لري، وترې ته د جواب وينې او د دوي څخه د ملاتړ د نورو موضوعاتو مسؤليت لري و استوي. د بيلګې په توګه د ماشومانو د ساتنې د عمل شبکه (CPAN) او د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت چې د هغوي د رياست د نده پرغاړه لري، که چيري دولا يتونو او ولسوالو په کچه جوړې او پياوړې شي ښايي د ماشومانو د کار پر وړاندې د دولتي او نا دولتي سازمانو د غبرګون له همغږۍ سره ډېر ګټور ثابت شي۱۹.

- د ماشومانو د ګواښمنو کارو نو او د کار د تر ټولو ناوړه ډولونو په اړه د پوهاوي د کچې د لوړولو يو کمپاين پلې کړي. د سيمه ايزې پوهاوي د کچې د لوړلو په موخه او د ا چې خرنګه د ماشومانو د کار ناوړه اغيزې وپيژني او همدا راز د شتو خدمتونو په هکله د معلوماتو دوړاندې کولو په موخه د عامه رسنيو لکه ټلويزيون، راډيو، ورځپاڼو، او

---

۱۸ يو د هغو رولونو څخه چې د جوړو شويو ښوونځيو د مديريت کميټه يې د خلکو د ښوونې او روزنې د برابروونکو مسئوليت په غاړه لري دادی، چې د بېلګې په توګه د زده کوونکو د ناسوبتيا څارنه وکړي.

۱۹ په CPAN پورې اړوند ورکشاپ چې په کابل کې په ۱۳۸۷ کال د سلواغې په مياشت کې جوړ شو، د ولايتونو او ولسواليو په کچه يې د ماشومانو CPAN ساتونکو سازمانونو د شبکو په کچه يې د پياوړتيا ټينګار کړی دی. په ځانګړي ډول د خلکو د ټولنو څخه د خبر ورکوونکي ميکانيزم د جوړولو اړتيا په ملي کچه CPAN لازم او اړين ګڼلی دی.

مجلو څخه ګټه واخلي. او دغي مو خي ته درسیدو لپاره په حکومت او مد ني ټو لنه کي داغیزي لرونکو کسانو څخه ددغو پیغامونو درسولو لپاره ګټه واخلي.

- په اړوندو وزارتونو لکه دپو هنې وزارت، دکار او ټولنیزو چارو ،شهیدانو او معلولینو وزارت کې د ټولنې د سمبالولو متخصصینو په روزلو او دظرفیتونو دلوړولو په برخه کې پانګه واچوي. او ډاډ تر لاسه کړي چې دټولنې سمبالول د ټولو پالیسیو او اقداماتو یو مهم عنصر دی.

- دهغو ځانګړو سیمو پیژندل او هلته پانګه اچول چې پکې کمزوری ټولنیز یوالی، کم معیشت، د جرمونو لوړه کچه، په ښوونځیو کې د حضور ټیټه کچه او د ماشومانو د ګواښمنو کارونو زیاتي پیښې تر سترګو کیږي د جمهور ریس دفتر لیوالتیا په سرحدي سیمو کې دټولني دپراختیا یو مثبت ګام شمیرل کیږي چې باید د کلیو د پراختیا او بیا رغونې د وزارت او دملي پیوستون دپروګرام(NSP) او دځایي ټولنو دپر اختیایي شوراګانو(CDC ) سره دجدي ښکیلولو له لارې ملاتړ وشي۲۰.

## پلي کوونکو سازمانونو ته سپارښتنې:

- یوه ټولنیزه لاره د ماشومانو د کار دټولو اقداماتو لپاره په پام کې ونیول شي.د وړاندي تر دې چې د ټولنې د ځواکمنو ټکو او د کمزورو ټکو د په نښه کولو په لاره کې پانګه اچونه وشي باید د ظرفیت او د زیانمنې تحلیل په لاره واچول شي .

- دنورو پلي کونکو سازمانونو په مرسته، د ماشومانو د کار په ګډون د ماشومانو د ملاتړ موضوعات د ټولنې پراختیایي نوښتونو کي شامل کړي او ډاډ تر لاسه کړي چې د ټولنې د پراختیایي شوراګانو اړوند اقدامات د ماشومانو د کار په اړه د پوهاوي د کچې د لوړولو د کمپاینونه او د ماشومانو د کار د کچې را ټیټول او د هغې قانوني کول د ټولینز پراختیایي پلان د ځانګړو موخو څخه ګڼل کیږي.

- د ټولنې د غړو څخه دې شبکې رامینځ ته کړي چې په کې د ټولنې د پراختیایي شورا غړي، مذهبي لارښوونکې، مشران، ښوونکې ، روغتیایي کارکونکې، په کار ګمارونکې(کارفرمایان) ګډون ولري او د ټولنې په کچه د ماشومانو د کار د څارنې په موخه دې یو پراخ بنسټ میکانیزم جوړ کړي. او هڅه وشي چې په دغه شبکو کې پخواني او اوسني کارګر ماشومان ګډون وکړي تر څو د هغوی له تجربو څخه په ګټه اخیستو سره اړوند اوغیزمن اقدامات طرح کړي. د کار په چاپیریال کي د ماشومانو دڅارنې، د ماشومانو لپاره د کار ښه شرایط را منځ ته کولو په برخه کې د کارګمارونکو برخه اخیستنې اوله هغوی څخه دې د کارګرو ماشومانو لپاره په ښونځیو کي د حاضریدو لپاره د اجازې د تر لاسه کولو او د هغو ماشومانو د څارنې لپاره چې د ښوونځي څخه لیرې پاتې دي، د ټولنیزو شبکو څخه ملاتړ وکړي. د ټولنو په مرسته د ماشومانو د د ګواښمن کارونه یا د کار د تر ټولو ناوړه ډولونه وپیژني او د رپوټ ورکولو، غبرګون او لیږلو لپاره دې داسې میکانیزمونه رامینځ ته شي څو د ماشومانو سوکالي او محرمیت څخه ساتنه وکړي.

- دټولنې څخه دې مثبتي بېلګې پیدا او هغوي ته برخه ورکړي څو دماشومانو د ښونې او روزنې د ارزښت او دما شوما نو دکار لنډ مهاله او اوږد مهاله ناوړه اغیزو په اړه دخلکو د پوهاوي کچه لوړه کړي. او د مثبتو بیلګو په توګه دې له هغو کورنیو څخه چې د ماشومانو په کار کی ښکیل نه دې ګټه واخلي او هغوی سره دې مرسته وشي څو د کار څخه د خپلو ماشومانو د لیری ساتلو او په ښوونځي کې د هغو ی د پاتې کیدو په اړه خپلې تجربې او ستراتیژۍ شریکې کړي.

- دماشومانو لپاره یوه ډاډمنه فضا را منځ ته کړي تر څو وکولاي شي په آساني سره زده کړې او لوبې وکړي څو پلرونه او میندې دامنیتي مسایلو او جرمونو په اړه ویره ونه لري۲۱. او له داسې یوه ځای څخه چې کیدا ی شي ښوونځي، د ټولنې مرکزونه او کورنه وي د ماشومانو د کار او یا د ماشومانو د

[۲۰] د کارل لودوس سره مرکه د ۱۳۸۷ کال د وږي میاشت

[۲۱] د یونسف له نوښتونو څخه په ټول افغانستان کي د ماشومانو د تفریح او لوبو لپاره د امنو سیمو رامنځ ته کول دي. سره لدې چې ځوانان او ماشومان دي ته اړتیا لري چې د ذدکړې او تفریح لپاره مناسب او سالم ځایونه ولري.

ساتنې د نورو موضوعګانو په اړه د پوهاوي د کچې د لوړولو او په دې اړه د ټولنې د سمبالو لپاره دې کار

## ۴،۳ دماشومانو د کار د کچې د راټیټولو لپاره د انتظامي، حقوقي او پالیسۍ د چاپېریال پیاوړتیا

دماشومانو په کار کې د دایمي کمښت ته د رسیدو لپاره یوسیاسي، انتظامي ،حقوقي ،اداري او ملاتړ کونکي چاپیریال اړین دی څرنګه چې د ماشومانو د کار په هکله د افغانستان په ملي پراختیايي ستراتیژی ، د کار په ملي پالیسۍ او ستراتیژۍ، د ګوابښ سره مخامخ ماشومانو لپاره په ملي ستراتیژی کې اشاره شوې چې دا کار دماشومانو د کار په هکله دسیاسي ژمنو او خوځښت دزیاتوالي ګندونه کوي. د ماشومانو د کار د ناوړه ډولونو او کار لپاره د تر ټولو ټیټ عمر په اړه د کار د نړیوال سازمان دکنیوانسیون مصوبه کیدای شي یوه مهمه قانوني پراختیا وي چې د ماشومانو د کار د په نښه کولو لپاره د افغانستان ددولت د ژمنو ښکارندوی دی[۲۲].

انتظامي او حقوقي چوکاټونه او پالیسي چې د ماشومانو د کار پر مسله اغیزه لري نیمګړې پاتې دي ځکه ندي توانیدلې چې د ماشومانو د کار غیررسمي سکتور ته چې هلته د ماشومانو خورا لویه برخه په کار بوخته ده په مناسب ډول پاملرنه وکړي. د افغانستان د کار قانون د کار لپاره تر ټولو کم عمر ټاکلی دي او د ۱۸ کلنو څخه د ښکته عمر لرونکو ماشومانو لپاره یې کاري ساعات هم ټاکلې دي. خو د(( ګواښمن کار )) او (( سپک کار )) کلمې یې ندي تعریف کړي.

سربیره پر دې، ددغو مقرراتو د څارني لپاره هیڅ میکانیزم ته اشاره نده شوې او یا دا چې په څه ډول د کار ځایونه تنظیم شي.د ماشومانو کارته په غیر رسمي سکتور کې په پاملرنې سره څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه د ماشومانو د کار د څارنې او دماشومانو د ساتنې تر ټولو اغیزمنه وسیله ده. که څه هم د ماشومانو د ملاتړ دعمل د شبکوچې په ملي او ولایتي کچو کې شتون لري او د د ټولنو په منځ کې کمه او یا هیڅ اړیکې نشته[۲۳].

د افغانستان دولت د کار او ټولنیزو چارو ، شهیدانو اومعلولینو وزارت چې د دې موضوع مشري په غاړه لري د پوهنې له وزارت سره په نږدې همکاری کې ، باید د ماشومانو د کار په اړه د پالیسیو په ټاکنه او د ښکیلو اړخونو په منځ کې د همغږۍ کې له ځانه ځواکمنه مشري وښیي او په ملي ، د ټولنو، ولسوالیو، ولایتونو په کچه د اقداماتو لپاره دې یوه ستراتیژي برابره کړي.

### د افغانستان دولت ته سپارښتنې:

- د ماشومانو د کار د تر ټولو ناوړه ډولونو په اړه دکار د نړیوال سازمان کنوانسیون اودپر کار د ګمارلو تر ټولو لږ عمر په هکله د کار نړیوال سازمان کنوانسیون په بیړه تصویب شو.د وخت په چوکاټ کي د ټاکلو موخو اوځانګړو نښانو لرونکي پروګرامونه جوړول او د ماشومانو د کار د خطرونو او د ماشومانو د کار دپیښو دتدریجي کمیدو لپاره یې یو ټاکلې نیټه ایز چوکاټ برابر کړي.د کار دنړیوال سازمان د کنوانسیونونو مواد په ملي قانون کې شامل کړي تر څو ډاډمن شي چې د ماشومانو د کار اړوند په افغانستان کې د کار د قوانینو او نړیوالو نورمونو تر منځ مطابقت او ورته والی شتون لري.

- د کار دنړیوال سازمان په تخنیکي او فني مرسته او د ماشومانو د کار د له منځه وړلو د پروګرام (IPEC) [۲۴] په مرسته د افغانستان د کار په قانون کې د ماشومانو د کار اړوند موادو بشپړه بیا کتنه وشي. ډاډ تر لاسه شي چې د نظارتي او انتظامي میکانیزمونو اړوند موادد افغانستان په خاصو شرایطو په ځانګړي ډول په غیررسمي اقتصاد کي عملي بڼه لري.

- ډاډ تر لاسه کړي چې د ماشومانو د ساتنې د عمل شبکې د ولسوالیو، ولایتونو او په ملي کچه د ماشومانو د کار په اړه موضوعي کاري ډلې د ټاکلې کاری پلان سره چې د موخو، وخت او مسوولو کسانو ښکارندوی دی، رامینځ ته کړي. او د پوهني وزارت ، ټولنیزو لاربښوونکو لکه ټولینیزې

[۲۲] د افغانستان لپاره د کار د نړیوال سازمان د پروګرام سره مرکه، د ۱۳۸۷ کال سنبله

[۲۳] د ماشومانو د ملاتړ شبکه (CPAN) اوسمهال د ځینو ولسوالیو په کچه کي شتون لري او داسي پلانونه موجود دي چې تر ۱۳۸۸ کال پوري دغه شبکي په ۴۳ ولسوالیو کي رامنځ ته شي

[۲۴] همدارنګه د استخدام په ملي ستراتیژی کي سپارښتل شوي دي.

پراختیایي شوراګانې، او هغه ادارې چې د ښوونې، معیشت، ماشومانو د ساتنې او د ټولنیزو پراختیایي فعالیتونو پلې کونکې دي کوم چې د ماشومانو د کار په اړه ګډې هڅې دي، له ګډون څخه ډاډ تر لاسه شي.

- ټاکلي میکانیزمونه رامنځ ته او پیاوړي کړي، ترڅو هغه ماشومان چې د کار په خاطر یې له قوانینو څخه سر غړونه کړې کله چې د پولیسو په تاڼو کې دي د ملاتړ وړ وکرځي او د خپلو ټولو حقوقو څخه برخمن شي. پولیسو، عدلي او قضایي بنسټونو ته دداسې لارښوونې جوړې شي تر څو وکولای شي د هغو شرایطو ته چې واړه ماشومان په کې ښکیل دي په ښه توګه غبرګون وکړي.[۲۵]

## پلي کوونکو سازمانونو ته سپارښتنې:

- له سیمي څخه د تجربو په بنسټ، د پالیسي ګانو د پراختیا او د ماشومانو کار په وړاندې د ښه غبرګون په موخه معلومات او نظریات برابر شي.
- د ګټه اخیستونکو ټولنو څخه ولسوالۍ، ولایتي او ملي جوړښتونو ته د معلوماتو د لیږد اسانتیاوې برابرې کړي. په ځانګړې ډول د ماشومانو د ساتنې د عمل د شبکې تر څو په افغانستان کې د ماشومانو د کار دډولونو او پیښو په اړه د پوهه زیاته کړي.

د ماشومانو کارته یو اغیزمن غبرګون لپاره د ټولنیز او اقتصادي لاملونو پیچلې اغیزې چې د کورنیو تصمیم نیونه اغیزمنوي، په نظر کې ونیول شي. او اقدامات هم باید څوسکتوري او همغږي شوي وي، تر څو په لنډمهال، منځ مهال او اوږدمهال کې دماشومانو د کار کمښت، مخنیوی او له منځه وړلو په کار کې بر لاسې شو. دوی باید همدا ډول د ټولنیزو مثبتو ارزښتونو او بیلګو چې د ماشومانو جسمي،عاطفي او فکري سلامتیا ته وده ورکوي، ملاتړ او ځواکمني کړي. دې حقیقت ته په پام سره چې د ماشومانو د کار څخه د ګټه اخیستلو په برخه کې د کورنۍ او ټولنې د زیانمنې کچه د شرایطو سره توپیر لري، لدې کبله اقدامات باید د ځانګړو اقتصادي، ټولنیزو-کلتوري او ښوونیز چاپیریال له ځانګړو شرایطو سره سم طرح شي تر څو سترې اغیزې ولري.

په افغانستان کې د ماشومانو د کار د کمولو لپاره هڅې نه شي کیدای چې دد اوږدمهاله بېوزلۍ او ناامنۍ څخه جلا په پام کې ونیول شي، او لکه څرنګه چې پدې څېړنه کې څرګنده شوه، د بېوزلۍ، شخړو، جرمونو او د قانون د حاکمیت د کمزورتیا تر منځ اړیکو د ماشومانو پر زده کړه او لوبو او په پای کې د ټولنې د یوه سالم غړې په توګه ددوی پر ودې رښتینې او د محسوسې اغېزې درلودلې دي. نو یوائې په یوه سوله ییز او سوکاله افغانستان کې شونې ده چې ماشومان او د دوي کورنۍ وکولاي شي د یوې روښانه راتلونکې هیلې تر لاسه کړي.

[۲۵] د ماشومانو څخه د ملاتړ شبکي، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو، کورنیو چارو وزارتونو او ښارنوالۍ، تر منځ وروستی توافق د ټولنیزو کارکونکو، پولیسو افسرانو او د ښارنوالانو تر منځ په هغو دوسیو کي چې ماشومان وي، همکاري اجباري کوي، د هغو ماشومانو چې قانون یې تر پښو لاندې کړی په اړه یو مثبت ګام بلل کیږي.

## ضمیمه: د ماشومانو د کاري سیمو موقیعتونه




د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه نا پیلې څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکې څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې درلودل دي. همدا راز نوموړې اداره(AREU) هڅه کوي څو په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅېړنې له لارې د افغانانو د ژوند انه ښه والې دی.

د افغانستان څېړني او ارزونې اداره، د ګل پلورلو کوڅه(د دوهمی کوڅی ګوښه ) نوی ښار، کابل

برېښنا پاڼه www.areu.org.af برېښنا پته areu@areu.org.af تلیفون: ۰۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰)+۹۳